**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د سوريې د انقلاب ډلو رهبرانو ته د حزب التحرير ـ ولايه سوريې پرانيستی ليک**



**(ژباړه)**

بسم الله و الحمد لله و الصلاة و السلام على رسول الله و بعد! له ابوهريره رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

**«إن مَثَلي ومَثَلَ ما بعثنيَ اللهُ به كمَثَل رجلٍ أتى قومَه فقال: يا قوم إني رأيت الجيش بعينيّ، وإني أنا النذير العُريان، فالنجاء.. فأطاعه طائفةٌ من قومه، فأدلجوا، فانطلقوا على مُهلتهم. وكذّبت طائفةٌ منهم، فأصبحوا مكانهم، فصبّحهم الجيشُ، فأهلكهم واجتاحهم.. فذلك مَثَل من أطاعني واتّبع ما جئتُ به، ومَثَل من عصاني وكذّب ما جئتُ به من الحق»**

***ژباړه:*** *زه او هغه رسالت چې الله سبحانه وتعالى يې زه د تبليغ لپاره ګمارلی يم، هغه کس ته يې پرېږدم چې خپل قوم ته راغلی او هغوی ته په خطاب کې وايي: اې قومه! ما هغه لښکر په خپلو سترګو وليد چې له ستاسو سره جګړې ته راته او زه ښکاره وېرونکی يم؛ نو خپل ځانونه وژغورئ. ځينو کسانو د هغه سړي په خبره باور وکړ او د نوموړي پيروي يې وکړه. له شپې يې د سفر چمتوالی ونيو او له وخته په فرصت له همغه ځايه ولاړل؛ خو ځينو بيا هغه دروغجن وباله او شپه يې همغلته تېره کړه. سهار مهال لښکر پر هغوی بريد وکړ او هغوی يې له منځه يوړل. دا د هغو کسانو بېلګه ده چې له ما اطاعت کوي او زما له رسالت څخه پيروي کوي. يا هغه کسان چې زما له امر څخه سرغړونه کړې او کوم حق چې ما راوړی، دروغ يې بولي.*

د ((ښکاره وېرونکی)) اصطلاح چې په حدیث شریف کې وویل شوې دا مانا لري چې یو کس خپل قوم له هغه خطر څخه ووېروي چې دوی یې چاپېره کړي دي. خپلې جامې یې له تن څخه ایستلې او په داسې حال کې په چټکۍ د هغوی لور ته په خوځښت کې دی، په خپلو جامو هغوی ته اشاره کوي تر څو هغوی له هغه خطر څخه خبر کړي چې په مخ کې یې دی. دغه کار معمولا داسې کس کوي چې مخکې له مخکې یې کاروان په حرکت کې وي او رهبري یې په لاس کې لري؛ ځکه د ټولو په لیدلوري کې وي او ټول ورته پام کوي. لنډه دا چې د هغه موقعیت له دښمن سره د مخامخ کېدو لپاره د چمتوالی په موخه د کاروانیانو د هڅونې لپاره په تر ټولو غوره ځای کې دی.

اوس مهال لیدل کېږي چې زموږ د لوی انقلاب رهبران ورو ورو له مبارزې لاس په سر کېږي، په داسې حال کې چې جگړه تر اوسه پر خپل حال پاتې ده؛ وسلې یې له اوږو ښکته کړې او د استراحت لپاره چمتو کېږي. په داسې حال کې چې د دښمن لښکرونه په مورچلو کې دي او ځان د پټو بریدونو لپاره چمتو کوي. دغه قومندانان او رهبران ((ښکاره وېرونکي)) ته اړتیا لري چې د خپلو جامو په خوځولو سره د ښمن لښکر ته اشاره ورکړي او په خپلو تندو خبرو هغوی له هغو دسیسو خبر کړي چې چاپېره کړي یې دي، هغوی ته خبرداری ورکړي چې لوی خطر یې په مخکې دی ترڅو هغوی د غفلت له خوبه راپاڅوي، د ژغورنې لار وروښیي، په لوړ غږ د هغوی په منځ کې فریاد وکړي او خبرداری ورکړي چې اې قومه! زه همغه ښکاره وېرونکی یم، نو خپل ځانونه وژغورئ، خپل ځانونه وژغورئ.

حزب التحریر د هغې تېروتنې لوی حجم معلوم کړی چې د انقلابي ډلو ډېری رهبران ورسره مخ شوي او پر دې ښه پوهېږي چې که دغه رهبران په همدغه ډول دوام ورکړي؛ انقلاب او ټول امت به له غټې ستونزې سره مخ کړي. نو پر همدې بنسټ، هوډ مې ونیو چې دغه پرانیستی لیک د «ښکاره وېرونکي» په توگه ورولېږم او له هغو خطرونو یې خبر کړم چې دوی یې چاپېره کړي دي. هیله ده چې زما غږ واوري او دغه لیک یې په زړونو کې ځای پرانیزي. په همدې ترتیب الله سبحانه وتعالی موږ ټولو ته د رحمت او مهربانۍ دروازې پرانیزي، زموږ انقلاب له دغو ستونزو په خوندي ډول راوباسي؛ موږ د ظلم کوونکو له واکمنیو څخه وژغوري او د هغه د نصرت روښنایي او عزت زموږ په برخه کړي؛ تر څو د نبوت پر تگلاره د راشده خلافت تر چتر لاندې له خیر او برکته ډک ژوند پیل کړو.

**اې د انقلاب ډلو رهبرانو!** تاسو په خپله شاهدان یاست چې د انقلاب بېړۍ ستاسو د اعمالو له امله ماته شوې او د ډوبېدو په حال کې ده؛ هغه ازادۍ شوې سیمې چې تر اوسه مو په واک کې دي؛ تیت او پاشل شوې او د هغو کسانو په لاس کې دي چې له دښمنانو سره مو جوړجاړی کوي. همدارنگه د امریکا د فرمان له خونو صادر شوي امرونه او په استانه، ژینو او ریاض کې د اسلام د دښمنانو هغه هوکړه لیکونه چې د بشار له نظام سره د اوربند په

شمول، په حکومت کې له نوموړي سره ګډون او د هغو قربانيو پر سر معاملې چې امت د تېرو اوو کلونو په اوږدو کې د شام په خاوره کې ورکړې؛ کلمه په کلمه عملي کوي.

په درعا ښار کې، چې دمشق ته د ننوتلو دروازه بلل کېږي، د انقلابيونو پېښې او لاسونه په ځنځيرونو تړل شوي او هغه جګړه درېدلې چې د «مرينې او نه ذلت» په شعار پيل شوې وه. دوی د بشار په نظام کې په ډوبېدو سره پر دې وتوانېدل چې د چارو واګې په لاس کې واخلي فشار راوړي او بمبارونه پيل کړي؛ ځکه دوې واکمنې ډلې جيش الاسلام او فيلق رحمان پرلپسې له يو بل سره جګړه کوي او ډېر ځلې يوازې بنديان سره تبادله کوي. د حمص د شمال په شاوخوا کې مخلصو مجاهدينو ته اجازه نه ورکول کېږي چې ستراتيژيکې سيمې فتحه کړي او دا په داسې حال کې دي چې متزلزله او بې زړه خلک تل د سيمې پالنې شعار ورکوي او په ياده سيمه کې يې د انقلاب او خلکو حالت له خرابۍ سره مخ کړی دی.

د بشار نظام ختيځ لور ته روان دی او پر هغو سيمو واکمني تر لاسه کوي چې داعش ډله يې په واک کې لري. داعش دغه سيمې په داسې حال کې له لاسه ورکوي چې هلته يې له اسلام او خلافت څخه ناسم فهم نندارې ته وړاندې کړی او اوس يې پرېږدي؛ پر ته له دې چې د هغو سيمو يو کس هم د دوی پر تګ افسوس وکړي. د سوريې ډيموکراټ ځواکونه هم هلته د پرمختګ په حال کې دي، هغه ځواکونه چې دې ته چمتو دي چې تر خپل واک لاندې سيمې د بشار نظام ته پرېږدي.کله چې د کردانو رهبران د امريکا په چوپړ کې خپل رول سرته ورسوي او ډاډه شي چې د کردستان خپلواک دولت، چې ژمنه يې ورسره شوې؛ په حقيقت کې له دوکې پرته بل څه نه دي.

ترکان بريالي شول چې د فرات زغرې په نوم عملياتو په پيلولو سره سيمې ونيسي، انقلاب کوونکي اغوا کړي، انقلاب ووژني او اوس ځان دغه ته چمتو کوي چې په ادليب او د حلب په غربي حومه سيمه کې انقلاب له منځه يوسي؛ ځکه دغه سيمې اوس د انقلاب کوونکو په اډو او پټنځايونو بدلې شوې او کافر غرب په دې هڅه کې دی چې د ترورېزم په رنګ يې ورنګوي. شام تحرير ډله مو هم وليده چې څرنګه په دام کې راګېره شوه او اوس له هغې ستونزې د خلاصون وس هم نه لري. لکه څنګه چې په تدريج سره وهڅول شول تر څو له احرار شام ډلې سره جګړه وکړي او ډېری هغه غربي شمالي سيمې تر لاسه کړي چې له نظام څخه ازادې شوې وې او په دوو ټاکنو کې شول او ګمان يې کاوه چې درېيمه لار نشته.

**لومړۍ ټاکنه:** د اسلام په فهم او پلي کېدو کې د داعش په څېر تېروتنه کړي او هغه يې له يو بل بېل معرفي کړي او تر خپل واک لاندې سيمې په کنډوالو بدلې کړي. په پايله کې خلک له برخليک ټاکونکې او لويې اسلامي برنامې څخه زړه توري کړي دي او په همدې ترتيب خلک دې ته چمتو کړي؛ تر څو په راتلونکي کې هر ډول سېکولريستي برنامې او اشغالګرو ځواکونو ته په پرانيستې غېږه هرکلی ووايي.

**دویمه ټاکنه:** د نورو په څېر د کفارو او مزدورانو امرونو ته غاړه ورکړي، خلک او د هغوی مال د هغو سېکولرانو په واک کې ورکړي چې په لومړي گام کې له غرب او وروسته د بشار له نظام څخه حساب تر لاسه کوي او دليل يې دا وي چې موږ غواړو ادليب له هغه برخليک څخه ژغورو چې رقه او موصل ورسره مخ شول.
په دې وروستيو کې د مدنې اداري تر عنوان لاندې چې کومه مفکوره مطرح شوې، په حقيقت کې هغه هڅه ده چې غرب ته دا وښودله شي چې موږ نور تروريزم نه يو؛ بلکې په هغو چاغو وريو بدل شوي يو چې په اسانۍ مو تر ستوني تېرولی شی. د دغې مفکورې د طرحې موخه دا ده چې انقلاب کوونکي خپله هغه بنسټيزه موخه هېره کړي چې د انقلاب په لومړيو دوو کلونو کې روښانه شوې او هغه دا چې د بشار نظام رانسکور کړي او د اسلام حاکميت يې ځای ناستې کړي. همدارنگه پر دغې مفکورې راټول او په پايله کې هغوی د دغه نظام بند ته يو گام نور هم نېږدې کړي. هغوی د مدني اداري مفکوره په عامه بڼه مطرح کړه او موخه يې دوې برخې کړه، يا دا چې دغه اداره يوازې د يو اداري اسلوب په توگه د خدماتي فعاليتونو د توحيد په موخه په واحدي موسساتو کې وکارول شي او يا کوچنی سېکولري حکومت شي چې له سياسي پلوه د ايتلاف په مزدورانو پورې تړلی وي.
هغه نوې بلنه چې د سوريې اسلامي شورا د دفاع وزارت تر فرمان لاندې په ډلو کې د وحدت رامنځته کولو په ادعا چې انتقالي حکومت جوړ کړي، دا هم په اصل کې هغه هڅه ده چې کورنيو ماتې خوړونکو او د غرب دوکه شوو پيل کړې او غواړي چې ياد وزارت له سياسي پلوه په خاين سېکولر ايتلاف پورې وتړي. هغه ايتلاف چې د انقلاب له دښمنانو سره د يو ځای کېدو لپاره د مسکو او قاهرې په دسيسه خونه کې چمتوالی نيسي، تر څو د وينه څوښونکي رژيم تر امر لاندې واحد سياسي جوړښت رامنځته کړي او د انقلاب د مرگ خبر اعلان کړي. په همدې ترتيب د تړلو ډلو ډېری رهبران دغه بلنه مني. کومو کسانو چې دغه بلنه مطرح کړې، له دې وېرېږي چې د اسلامي انقلاب برنامه د دوی خنډ نه شي.
نو پرې همدې بنسټ، هغوی هڅه کوي چې د پرمختگ مخه يې ونيسي او اسلامي رنگ او بوی په بشپړه ډول ترې واخلي. په عين حال کې د نظامي ډلو په منځ کې يو ځل بيا فتنه واچوي او په خپلو کې يې سره اخته کړي، تر څو په همدې ترتيب هغو دامونو ته د شام د مخلصو انقلاب کوونکو د راگرځېدو لاره هواره کړي؛ چې د انقلاب پر وړاندې د بشار د نظام او نړيوال ظالمانه ايتلاف له لوري اېښودل شوي دي.
هغوی دغې بلنې ته د زمينې جوړلو لپاره پر داسې مهال هڅه کوي چې موږ مسلمانان او مجاهدې ډلې د دغه وس نه لرو چې سره راټول شو او يووالی رامنځته کړو. پر همدې بنسټ، دا غوره ده چې د يوې گډې ملي او سېکولرستي برنامې پر اساس په پټه راټول شو؛ ځکه د نړيوال نظام له چتر نه بېرون وتل سخت دي او هغه پرېکړه چې غرب زموږ په اړه کړې، په هېڅ ډول د بدلون وړ نه ده.

**اې د انقلابي ډلو رهبرانو!** ایا اوس له هغه وروسته چې په زرګونه تنه شهیدان شول، سلګونه زره ټپیان، معلول او اسیران شول، له لس میلیونه ډېر بې کوره او مهاجر شول او په زرګونه ودانۍ ویجاړې او زرګونه ښوونځي، روغتونونه او بازارونه له خاورو سره خاورې شول. ایا اوس وروسته له هغو ټولو قربانیو چې د دغه انقلاب لګښت مو کړې، منئ چې سرټیټي او ذلیلانه بیا د بشار ظالم نظام ته ورو‌ګرځئ؛ چې یو ځل بیا د شام د ازادو خلکو څټونه د خپل وحشت په دورو سرې کړئ او زموږ ازادې خویندې بندیانې کړئ؟ تاسو پر دې پوهېږئ چې د کافرانو او منافقینو دسیسو ته غاړه اېښودل، پر ذلت او خوارۍ سربېره، چې ستاسو په برخه به شي، هغه ټولې لاسته راوړنې چې په دغو له وینو ډکو کلونو کې مو درلودې؛ په خپلو لاسونو به یې په باد یوسئ!

هغه څه چې دغه غمونه یې رامنځته کړل، انقلاب یې تر دې ځایه راورساوه او د دغو ټولو وژونکو تېروتنو او ستونزو لامل شول؛ ټولو ته روښانه ده؛ خو بیاهم یادونه کوم چې بنسټیز دلیل یې دا و چې تاسو (د ډلو رهبرانو) د انقلاب له دښمنانو سره د غربي دولتونو  او ترلو نظامونو له لوري اړیکې ټینګې کړې. دغه دولتونه او نظامونه د خپلو زړونو د باور پر خلاف تاسو پر حقه ګڼي او انقلاب مو یو رښتینی انقلاب نوموي. د ترکیې حکومت، سعودي عربستان، قطر او اردون له خپلو سیاسي په زهرو ککړو پیسو څخه په ګټې اخیستنې او د خپلو استخباراتي دستګاوو له لارې د نقلاب له پیل څخه په خپل ټول وس هڅه وکړه ترڅو د انقلاب له مخکښو کسانو، د ډلو له رهبرانو او هغو سرتیرو سره اړیکې ټینګې کړي چې له نظامه بېل او له انقلاب سره یو ځای شول. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا يُنْفِقُونَ أَمْوَالَهُمْ لِيَصُدُّوا عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ﴾
[انفال: ٣٦]

***ژباړه:*** *کومو خلکو چې د حق له منلو څخه انکار کړی دی، هغوی خپلې شتمنۍ د الله سبحانه وتعالی له لارې څخه د منع کولو لپاره لګوي.*

د دغه ایت شریف پر بنسټ په ډاډ سره ویلی شو: هغه مالي مرستې په هېڅ صورت مخلصانه او د الله سبحانه وتعالی په لاره کې نه دي لګېدلې؛ بلکې د دې لپاره وې چې له دغو پیسو نه په ګټې اخیستنې د انقلاب مسیر بدل کړي او اصلي موخې ته یې د لاسرسي خنډ شي؛ چې هغه د بشار د مزدور نظام نسکورول او پر ځای یې د خلافت نظام تاسیسول دي. د خلافت نظام د جوړېدو په صورت کې به ټول دولتونه او نظامونه سره وپاشل شي او خپل باور به له لاسه ورکړي.

موږ په ځلونه د دغو مردارو پیسو په اړه تاسو ته خبر درکړ؛ خو تاسو زموږ خبر ته پام ونه کړ او ټول پوهېږو چې د دغو نړیوالو دسیسو څښتن په دغو پیسو سره پر دې بریالي شول چې خپلې ناوړه موخې رښتیا کړي. هغوی په پیل کې پر دې وتوانېدل چې ډلې له خپلې اصلي موخې وګرځوي، چې هغه په زړېږندځای (دمشق) کې د نظام

نسکورېدل وو او د هوډ نیولو ځواک په تر لاسه کولو هغو په بې ګټې څیزونو بوخت کړي. نه یوازې دا چې د وحدت او یووالي دروازه یې د هغوی پر مخ وتړله، بلکې هغوی یې په خپلو کې سره اخته کړل.

د انقلاب لپاره د سیاسي استازو منل چې په اصل کې مزدور سېکولران وو، له نظام سره یې د انقلاب بهیر ته د بشپړو غلطو اوربندونو لړۍ دننه کړه؛ د ډلو او نظام تر منځ یې په استانه او ژینو کې د خبرو دوازه پرانیستله چې ټوله له سپکاوي ډکه او پایله یې دښمن ته د ښارونو بشپړ سپارل او د انقلاب کوونکو راټولو لپاره له خلکو څخه د ځینو سیمو خالي کول وو. ځینو کمزورو کسانو هڅه وکړه چې له نظام سره د جوړجاړي مسئله خوره کړي او که هغه ناسمه اړیکه نه وی تېنګه شوې، له شک پرته هېڅ وخت دا شونې نه وه چې دغه ټولې پېښې او شاه تګونه رامنځته شي. هغه اړیکه چې انقلاب او انقلاب کوونکي یې د کفري دولتونو په تصمیمونو کې راګېرکړل، هېڅ وخت داسې څه نه کېدل.

که یو ګام نور هم شاته ولاړ شو، و به وینو چې د انقلاب له دغو ستونزو سره د مخ کېدو اصلي او رښتینی لامل هغه غلط افکار وو چې انقلاب کوونکو ته یې د حرامو او ناوړه پیسو منلو اجازه ورکوله. دغه افکار په لاندې ډول دي:

**لومړی:** هغه غلطه قاعده چې د پانګوالۍ له مفکورې یې سرچینه اخیستې (موخه وسیله بولي)، انقلاب کوونکو دغه کفري قاعده اصل وبلله او دا یې هېر کړل چې الله سبحانه وتعالی لمونځ له اوداسه پرته او د غله صدقه نه مني.

**دویم:** دغه غلط تصور چې ګنې ګټې به یې د لویو دولتونو پروړاندې ودرېږي، دغه غلط تصور او درک ډېری اسلامپال منحرف کړل او په پایله کې د دغه حقیقت له درکه پاتې شول چې تاسې خپل ځان د یوې ډلې په توګه هېڅ وخت له یو دولت سره نه شی پرتله کولی. هغه اړیکه چې د یاد دولت د مرستو منلو په صورت کې به ستاسو د ډلې او مرسته کوونکي دولت تر منځ رامنځته شي، هغه به په پرېکنده ډول پر تاسو د یاد دولت واکمني او له تاسو څخه ناوړه ګټه اخیستل وي.

**درېیمه:** دغه مفکوره چې موږ دې ته چمتو یو چې د بشار نظام له شر څخه د خلاصون لپاره له شیطان سره تړون وکړو، له دې نه بې خبره چې له شیطان سره یو ځای کېدل موږ د بشار تر نظام ګواښوونکي ګندې ته غورځوي؛ ځکه نظام په خپله مزدور او د شیطان خدمتګار دی او دا چې شیطان خیریه سازمان نه دی، بلکې هغه وحشي حیوان دی چې تېره غاښونه لري او ورسره یوځای کېدل به له افسوس پرته بل څه نه وي. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿يَعِدُهُمْ وَيُمَنِّيهِمْ ۖ وَمَا يَعِدُهُمُ الشَّيْطَانُ إِلَّا غُرُورًا﴾

[نساء: ١٢٠]

*ژباړه: شیطان له هغوی سره د دروغو ژمنې کوي او هیلې ورته پیدا کوي؛ په داسې حال کې چې دغه ټولې ژمنې له غولولو پرته بل څه نه دي.*

**څلورم:** د ګټو د جلبولو او زیان د دفعې دغې مفکورې له شرعي اساساتو هم تېرې وکړ، په داسې کچه چې دغه ناوړه مفکوره (مصلحت) د ځینو په نظر چې خپل ځانونه هم عالمان بولي، په داسې معبود بدله شوې چې د الله سبحانه وتعالی تر څنګ د هغه عبادت کوي.

**پنځم:** هغه ناروغ او غلط فهم چې له شرعي سیاسته هغوی ته پیدا شوی، په داسې کچه چې د دغه غلط فهم څښتن هم ګومان کوي چې سیاست یعنې د شرعي احکامو تر پښو لاندې کولو په بیه د کافرانو پر وړاندې کم راتلل دي، بلکې د الله سبحانه وتعالی له دین څخه په بشپړ ډول لاس اخیستل او شرعي سیاست ته ورګرځېدل هم د هغوی په نظر رامنځته کېږي.

**اې د انقلاب ډلو رهبرانو!** هغه تریخ واقعیت چې نن پکې راګېر یو او زموږ له نظره یې اسباب داسې دي چې په امانتدارۍ سره مو درته بیان کړل؛ لکه څنګه چې مخکې مو هم په ځلونه درته بیان کړي وو، خو ستاسو له لوري مو له مخ ګرځولو او ناپوهۍ پرته بل غبرګون ونه لید.

هغه بنسټیزه حللاره چې موږ یې د انقلاب د ټولو ستونزو لپاره وینو او هغه اغېزمن درمل چې د ټولو دردونو لپاره یې لرو دا دي چې تاسو رابلو، وړاندې له دې چې وخت له لاسه ورکړئ؛ پر هغه منګولې ولګوئ، چې په بشپړه جدیت او د مسولیت په احساس د انقلاب د برخلیک په اړه فکر وکړئ او دا هېره نه کړئ چې د دغه انقلاب په لاره ورکړل شوي قربانیان په کومه کچه وو او د هغه ګواښ کچه تر کومه ځایه رسېږي چې دوی یې چاپېره کړي؟ اوس هم دا فرصت شته چې په سمه لاره ګامونه کېږدئ او سمه لاره دا ده چې د انقلاب ثابت او نه بدلېدونکي اصول په غور او بشپړ وضوح معلوم کړې؛ چې هغه په بشپړه توګه د بشار نظام نسکورول، د ښکېلاکګر غرب له نفوذ څخه خلاصون او د امت دولت پر پښو درېدل، یعنې د نبوت پر تګلاره د راشده خلافت دولت دی.

وروسته په چټکۍ هغه ټولې اړیکې پرې کړئ چې له دښمنانانو سره یې لرئ او د هغوی له لوري ناوړه سیاسي پیسو ته د رد ځواب ووایئ. د ډلو تر منځ اختلافونه، بېلتون او یو له بل سره شخړې پای ته ورسوئ او د ورورولۍ خبرو په پیلولو سره د الله سبحانه وتعالی له کتاب او د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو د سیاسي برنامې پر بنسټ وحدت او یووالی پیدا کړئ.

مخکې مو هم په ځلونه تاسو دغې حللارې ته رابللي وئ، خو ستاسو ځواب له مخ ګرځولو او ناپوهۍ پرته بل څه نه و. بیاهم په حزب التحریر کې موږ ستاسو د ورونو په توګه حاضر یو تر څو یاده ښکاره سیاسي برنامه درته وړاندې کړو. هیله ده چې له موږ سره یوځای او زموږ تر سیاسي رهبرۍ لاندې د الله سبحانه وتعالی د

خوښۍ پر لور حرکت وکړئ، چې د انقلاب موخې، مصلحت او د امت سعادت په دواړو دارينو (جهانونو) کې د امت نېکمرغي تر لاسه او امت خپل تېر عزت ته ورو‌گرځوو.

**اې رهبرانو!** موږ په هغه واقعيت پوهېږو چې تاسو پکې اوسېږئ له هغه څه سره ډېر توپير لري چې موږ مو ورته رابلو؛ خو که کوم کس له دغې ستونزې او بتاهۍ څخه ځان او خپله کورنۍ ژغوري، نو سخت اړتيا او مسوليت دی چې د دغې تباهۍ پر وړاندې هر ډول ټمبلي نه جبران کېدونکې وي. په عين حال کې، په الله سبحانه وتعالی قسم چې دغه کار به د هغو کسانو لپاره ډېر اسانه وي چې هماغه الله سبحانه وتعالی ته په اخلاص نيت او پر هغه سبحانه وتعالی سم توکل دی. په دې کې شک نشته، که موږ په اخلاص د الله سبحانه وتعالی دين ته نصرت ورکړو، الله سبحانه وتعالی به هم د دښمنانو پر وړاندې موږ ته نصرت راکړي. حتی که ټول انسانان او پېريان هم زموږ پر وړاندې سره يوځای شوي وي. لکه څنګه چې الله سبحانه وتعالی فرمايي:

﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ تَنْصُرُوا اللَّهَ يَنْصُرْكُمْ وَيُثَبِّتْ أَقْدَامَكُمْ﴾

[محمد: ۷]

***ژباړه:*** *اې مومنانو! که تاسو د الله سبحانه وتعالی له دين سره مرسته وکړئ، نو الله سبحانه وتعالی به هم له تاسو سره مرسته کوي او ګامونه مو ټينګوي.*

**اې د انقلاب ډلو رهبرانو!** دا هغه غلط واقعيت دی چې تاسو ورسره مخ ياست، د هغو تيارو پايله چې انقلاب د هغه لور ته سوق کوئ او دا هم د ژغورنې او هيلې هغه لاره چې موږ په بشپړه اخلاص او صداقت تاسو ته څرګنده کړه او تاسو ورته رابلو، ترڅو د هغه لور ته په حرکت کولو او په سم ډول د مسئوليت په ادا کولو او د انقلاب وړ خلکو ته د انقلاب د چارو په سپارلو سره لومړی خپل ځان او وروسته ټول امت له دغه وژنځای څخه وژغورئ. دا د هغو کسانو فرياد او نصيحت دی چې له تاسو سره مينه لري او ستاسو او د امت د ژغورنې لپاره يې د ډېرې مهربانۍ له امله تر تاسو دررسوي. هغوی داسې کسان دي چې لښکر په خپلو سترګوويني او د خپلو جامو په ښورولو تاسو ته خبر درکوي او له هغو ګواښونو مو خبروي چې چاپېره کړي يې ياست.

**اې د انقلاب ډلو رهبرانو! تاسو ته وروستۍ خبره:** پر دې پوه شئ، کوم امت چې د انقلاب له پيل څخه يې خپل د زړه ټوټې تاسو ته په واک کې درکړې او په دغه لاره کې يې خپل ټول شته قرباني کړي، اوس هم دې ته چمتو دی ترڅو په دغه لاره کې په ټولو سختيو سربېره همداسې دوام ورکړي او په دغه لاره کې د الله سبحانه وتعالی تر نصرت رسېدو ستاسو تر څنګ وي؛ خو په دغه شرط چې يوه هيله وي او ډاډه وي چې اوس هم د بريا لويه لاره په بشپړه توګه نه ده بنده شوې.

په عين حال کې پر دې هم وپوهېږئ، که پر همدې حال پاتې او لاره مو بدل نه کړئ، نو همدا امت به له تاسو څخه دغه رهبري بېرته واخلي؛ لکه څنګه چې له مخکنيو کسانو يې واخيست؛ ځکه قدرت د امت دی او شک مه

کوئ، هر څوک چې دغه قدرت په زور تر لاسه او ناوړه ګټه ترې واخلي، که لېرې وي، که نېږدې، بیرته به یې ترې تر لاسه کړي. نو پر همدې بنسټ، لومړی د الله سبحانه وتعالی او وروسته د امت له غوسې ووېرېږئ. هغه امت چې په دغه هڅه کې دی، تر څو د الله سبحانه وتعالی شریعت د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر بیرغ او هغه خلیفه تر رهبرۍ لاندې پر پښو ودروي چې له لاسه تللی عزت یې بیرته راوګرځوي.

**﴿فَلْيَحْذَرِ الَّذِينَ يُخَالِفُونَ عَنْ أَمْرِهِ أَنْ تُصِيبَهُمْ فِتْنَةٌ أَوْ يُصِيبَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ﴾**

[نور: ٦٣]

***ژباړه:*** *د پيغمبر صلی الله علیه وسلم له حکم څخه سرغړوونکي باید ووېرېږي، چې په کومه فتنه کې راګېر نه شي او یا دردناک عذاب پرې رانه شي.*

**اې د انقلاب ډلو رهبرانو!** دغه تاسو ته زموږ فریاد او خبرداری و، په دې هیله چې ارزښت ورکړئ او ویې منئ!

**حزب التحریر-ولایه سوریه**

**۱۴۳۹هـ.ق، د محرم ۱**

**۲۰۱۷ م، د سپټمبر ۲۱مه**

**ژباړه: بهیر ویاړ**